# افـغــان شهــــــــزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکایي "



شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)

# تأريخي نــاول

لیکوال : پـوهانـد بشیر احمد زکـریـا
د کولمبیا د پوهنتون دایمي پروفیسر

ژباړه : رحمت آریـا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

# پینځم څپرکی

په ۱۸۱۹ز کال کې په اټک کې د افغان دُراني لښکر له ماتولو وروسته، سترواک رنجيت سینګهـ، افغانانو ته په خپل ټاټوبي کې په ستر ګواښ بدل شوی وو. په ۱۸۳۴ز کال کې ول چې سولند رنجيت سینګهـ د بارکزيي ورونو، لکه سردار محمد عظیم خان او سردار سلطان محمد خان مرکز، پيښور ئې له خپلې خاورې سره یو ځای کړ. رنجیت سینګهـ د پیښور ودانی، له خوښیو او ښادیو ډک ښونه او د بالاحصار یوه برخه له خاورو سره یوه کړه چې مونت سټیوارټ الفنسټن ددغې ورانې او ناتار شرحه په خپل کتاب کې په تفصیل ورکړې ده.

په کابل کې د امیر دوست محمد خان د سرتـېرو له یو کلنې پوځي روزنې وروسته په کافي اندازې ډاډه شوی وم چې دا ښـهٔ خبر باید د دربار په غونډې کې د اعلحیضرت حضور ته ورسوم. په پای کې په ۱۸۳۸ز کال کې پادشاه د خپلو ځواکونو د جګړه ییز ظرفیت د ازمویلو لپاره له ما وغوښتل چې د هندوکش د شمال پر لور، بلخ، مزار او کندز ته مارش وکړم، دا ځکه چې ددغو سیمو قومي مشران د پادشاه د سلطنتي اتوریتې پروړاندې راپورته شوي ول. په کابل کې هم د افغان مشرانو تر منځ ځرګند دباو او شک محسوسـېدهٔ ځکه د سیکهانو پاچا مهاراج رنجيت سینګهـ د برتانویانو له پلوه تر کافي اندازې په شا ډبول شوی وو او زړورتیا ئـې تر لاسه کړې وه چې د افغانستان ختیځې دروازې ونړوي.

ما ته څرګنده او محسوسه وه چې افغانان به په ډېر نـېـږدې وخت کې د سیکهـ د ستروا‌کی پر وړاندې خپل ختیځ محاذ پرانـېـزي. افغانانو غوښتل د خپلو شمالي او لوېدیزو کرښو د خوندیتابـهٔ د ډاډمنولو لپاره ما د یوهٔ لښکر په مشری هلته واستوي. خو ما په خپله غوښتل ختیځې کرښې ته واستول شم چې له رنجیت سینګهـ څخه د هغـهٔ د بد چلندئ او پر ما باندې د لګـېدلي ناروا تور په بدل کې خپل غچ واخلم. زړهٔ نا زړهٔ مې د پاچا امر ته غاړه کښـېښودله چې د خپلې فرقې له یوې برخې سره د هندوکش د غرونو شا ته مارش وکړم. خو ذهناً مې په دې قناعت وکړ چې دغه لښکري یون ما ته دا شـېـبـه په لاس راکوي چې د افغانستان له تارتاري[1] سیمو څخه به هم لیدنه وکړم. که څـهٔ هم د لښکر مشري په نمایشي ډول د پادشاه اتلس کلن زوی محمد اکرم خان ته سپارل شوې وه خو پادشاه زه د یوهٔ ۴۰۰۰ کسیز ځواک په مشرئ وټاکلم ترڅو د مریيتوب د سوداګر مرادبیګ غوړونه چې د وزبیکستان په سویل کې ئـې واکمني درلودله ورتاو کړم. زما په لښکر کې ۲۴۰۰ پلي سرتـېـري، ۱۶۰۰ سپارهٔ، ۲۰۰۰ آسونه، ۴۰۰ اوښان او د یوهٔ فیل په ګډون د توپ یو کتار وو چې دروند توپ به فیل کشاوهٔ، همدا شان د لښکر په لیکو کې نور بـېـلابـېـل جنګیالي هم ول. کله چې له هندوکشه د حاجي ګګ لوړ تلنځ «معبر» ته وختلو نو د ژمي سړه هوا د تلنځ پر لور زموږ د خوځون او د تـېـرېدلو خنډ ګرځـېـدله؛ دغه تلنځ د سمندر د اوبو له مخې ۱۵۹۰۰ فیټه لوړوالی لري. د ژمي په همدې سړې هوا کې زما لښکر له تلنځه د تـېـرېدلو پر مهال خپل لس آسونه له لاسه ورکړل. آسونه په واورو پوښل شویو غرنـېـو ډډو باندې د ختلو پر مهال زښت ډېـر ستړي سوي ول او د خوراکي توکو کمښت دې ته اړ ایستلو چې ښاخرویو ته نـهٔ هره ورځ بلکه یوه ورځ په منځ کې واښـهٔ ورکړو. زموږ خوراکي توکي نیمايي شوي ول، سرتـېـري اړ ول چې په همدغو لږو توکو د بسنې په کولو خپله شپه او ورځ تـېـره کاندي، هغوی خپلې یخ وهلي پښې د مړو شویو آسونو په پوستکو

---

[1] - Tartary



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پوښلي وي او تلنځ ته د رسېدلو لپاره مجبوره ول چي د واورو پر مخ په خاپوړو پورته شي. تلنځ ته د لارې په اوږدو کې د هندوکش د ګـړَنـګ دواړو خواوو ته زښتي لوېي پلني ډبرې پرتې دي، ددغو غرونو په لوړو ژورو او موړنو کې له ځو ورځو هلوځلو او لالـهاندیو وروسته ول چي یو ناڅاپه د یوې سمسورې دَرې لمنه زموږ پر مخ پرانیستل شوه او زما د خیالونو «شنګریلا»[٢] ئـې زما مخې ته را ژوندۍ کړه.

ددغه ټاټوبي د طبیعي توپیرونو لیدنګ هر بشري ذهن دې ته اړ باسي چي د همداسي یوې طبیعي ښکلا رښتونی ښایست عملاً احساس کړي. پلني پراخي دښتې، تر آسمان ختلو سترو سترو وچو او بې ونو غرونو او تر ځنګ ئـې شنـهٔ بهانده ځروبي «آبشارونه»، یاغي او بهاند سیندونه چي هر غرهٔ ئـې ځو ځو سمسورې دَرې په غېـږو کې نـیولي دي او په لمنو کې ئـې تک سرهٔ ریدي ګلونه چي د آسمان تر شنـې نیلي ګنبدۍ لاندې د ښکلي غرنۍ هوا په چلېدو په مکیز ناځي، هر سیلاني ته داسي احساس ور په زړهٔ کوي چي ته به وائـې په رښتیا ئـې د تصوف د پاړوګرې خیالي نړۍ پر لمن باندې ګام ایښی وي. دا د بامیانو د دَرې، ګړنګونه او ژورې کندې وې چي زه ئـې د سویل – لویدیز د سرکښه طبعیت د یادونو د خیال په وزرونو له ځان سره واخیستم.

دلته هزاره جنګیالي زموږ مخې ته راغلل او موږ ته ئـې د خوښی او خوشالی په ځرګندولو ښـهٔ راغلاست وویل. هغوی په تورو، شلګرو او ډالونو سمبال ول. د یوهٔ وړوکي اوب - ډنډ تر ځنګ له کیـږدۍ وهلو او دمه کـېدلو وروسته د هزاره قوم د ټبرونو مشران راته راوستل شول. هغوی د مرییتوب د سوداګر، د کندز د سیمه ییز حاکم مرادبیګ د ظلم او ناتار له لاسه په ننواتو او سوز سر ټکونه کوله. د هزاره ټبرونو په سیمي کې د لښکر له خوځون او پرمختګ سره سم، کلي او باندې ورو ورو له سترګو پناه کـېدلي او غرني ژوي مو مخې ته راتلل. ددغه ځای غرونه او دَرې دواړه په لیوانو، ګیدړو او دښتنیو سویانو ډکې دي. په دې ټولو ژویو کې چي د نورو په پرتلي ددغې وچې او سرې غرنـی سیمې په ګړنګونو کې کله ناکله په شاهي غرور راڅرګندېـدهٔ، غرنی ګـډ[٣] «قچ» وو. ددې ډول ګډ، د نارینه ښاخونه د انسان د ورانـهٔ په اوږدوالي وَده کوي. دا ګډ چي زښت ډېر چټک -ځغاستی او هوښیار دی د خپلو بچیو د زیـږون د فصل پر مهال بیخي زیات شډل او بیرحمـېږي. دا ګډ د مارانو په خوړلو کې لوړ نوم لري او له همدې کبله د «مار خور» په نامـهٔ یادیږي. ما اورېدلي ول چي دا ژوی د نړۍ په نورو برخو کې د پسـهٔ په شان بې آزاره ژوی دی؛ خو دغو ژویو ته په کاتو سره په ذهن کې مې دا خبره وېنځـېدله چي په افغانستان کې د پسـهٔ په شان دوني یو بې آزاره، هوښیار، بې باکه او یاغي ژوی چي خطرناکترینه ماران ژوندي تـېروي نو دا په خپله په ناخود آګاه ډول ددغـهٔ هـېـواد د پرګنو طبیعي تومنه او فطرت په ډاګه کوي.

شمال ته د مارش د لارې په اوږدو کې زه او شهزاده اکرم خان د افغان لښکر په مخکینې سر کې وو. د لارې په اوږدو کې له یوهٔ بل خنډ سره مخامخ شولو، دا خنډ د علي بیګ په نامـهٔ د تاجیکانو یو قومي مشر او د مرییانو سوداګر وو چي د سَیغان په ټینګي کلا کې ئـې مورچلې جوړې کړې وې. دا کلا چي نیول ئـې ګران ول په دوني یوهٔ حساس ټکي کې ودانه شوې وه چي ان د علي بیګ له تـېښـتي وروسته هم ځو تنو په یوازې سر کولی شول له کلا څخه دفاع وکړي. ددې کلا د ودانولو پخوانی تأریخ په ډېـرې شونتیا

---

[٢] - Shangri-La د کتاب پـهٔ پای کې ئـې شرحه کې وګورئ

[٣] - ښایي لیکوال دلته مار خوره وزه یاده کړې وي چي پـهٔ دري کې ورته بز مارخور او بز وحشي وایي او د هندوکش پـهٔ شمالي لوړو ځوکو کې موندل کـېـږي. دا وزې هم اوږدهٔ ، نیمه درېدلي پیچل شوي ښاخونه لري- ژ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هندوستان ته د الکسندر د لښکري خوځون او برید مهال ته ورگرځي. یوه خبره مې پام کې راتاو شوه چې د لښکري ځواک دغه ډول ننداره او خوځښت باید په خپله د شمال ټولو قومي مشرانو ته د اخطار یو پیام په ځان کې نغښتی ولري. د توپونو کتار ته مې بولنه ورکړه چې کلا ته په نـېږدې واټن کې ځای پر ځای شي، او بیا مې د پرله پسې اور بولنه ورکړه. له یوهٔ ساعته لږ وخت کې د توپونو اور د ختیني کلا دیوالونه ونړول، د خاورو دوړې د وریځو په شان هواته پورته شولې او سر تـېرو مو کلا د سترگو په رپ کې ونیوله. ورپسې د افغان دولتي سرتـېرو په لاس د سیغان ټولو مهمو قومي مشرانو ته پیام ولـېږل شو چې غونډې ته دې راټول شي. په دې کلا کې مې یوه وړوکي پوځي لښکري ډله ځای پر ځای کړه او ورپسې لښکر د کهمرد د درې پر لور وخوځـېد، په دې دَرې کې چې د تورکستان او هزاره جاتو تر منځ د بیلتون کرښه ده په دمه کـېدلو د قومي مشرانو د لیدلو غونډې ته سترگې په لار شوو. لومړني څوک چې زموږ لیدلو ته راغی رفیع بیگ وو، رفیع بیگ چې زما د پخوانیو دوستانو له ډلې څخه وو له خپلو ورونو او درې سوه تنو غوره شویو سپرو سره ما ته راغی. هزاره سپرو ښکلې کشمیري پگړۍ او ځلانده رنگینې وزبیکي چپنې اغوستې وې چې په تورو، ډالونو، شلگرو او فتیله ئـي توپکو سمبال ول، سپرو سرتـېرو خپل توپک د سرو او سپینو زرو په وړوکو وړوکو ټوټو هم پسوللي ول." سپرو د خپلو آسانو کریبونه «رکابونه» په سرو او سپینو زرو پسوللي ول او د کریبونه د ناستي د ځای څنډې ئـې په سرو مخملینو گلاباتون شویو او بنارسي ټوکرانو ښایسته کړي ول چې ډېر ښکلي ښکارېدل." رفیع بیگ او ورونه ئـې چې « پـهلوان ډوله او نیک چلنده خلک ول» زما او د شهزاده اکرم خان مخې ته په پوځي تعظیم راحاضر شول. د سلام علیکي، ښې چارې او په افغاني دود یو بل په غـېږ کې نیولو او دوستانه ټوکو پسې ټول مـېلمستیا ته وبلل شول. زما د خوراکي توکو له زیرمې څخه ځکه ټولو ته د لسو ورځو لپاره ډوډۍ ورکړل شوه چې شهزاده اکرم خان زموږ په لښکر کې د خوراکي توکو د کمښت له کبله نټه وکړه. د رفیع بیگ او د هغـهٔ د ورونو د غوښتنې له کبله ما د خپل لښکر د نظم او انظباط یوه ننداره د یوې لیوا د پرید او د دښتـنـۍ بطریې د چټک اور په ښودلو تر سره کړه. ټول هک پک پاتې ول. د غور شهزادگي ټینگار وکړ چې ددهٔ له غرنۍ استحکامي کلا څخه باید لیدنه وکړم. له څو ورځو ښکار، مـېلمستیا او ددهٔ د لور په وادهٔ کې له گډون وروسته رفیع بیگ زما په لاس کې یو کاغذ کښـېښود، په دغـهٔ کاغذ کې رفیع بیگ د ځمکوالۍ په سیستم کې دننه خپل ټول قلمرو زما په نامـهٔ کړی وو او ژمنه ئـې کړې وه چې په خپله دی او قوم به ئـې تر ابدالابد پورې ماته باج راکوي. د همدغـهٔ کاغذ له مخې ول چې په رسمي ډول د غور د تلپاتې سلطان په نامـهٔ ونومول شوم.

زموږ د مارش وروستۍ ټکی د کندز پر لور وو چې له مراد بیگ سره خبره سپینه کړو او همدا کار، شمال ته زموږ د لښکري خوځون بنسټیزه موخه وه. دلته د وزبیکانو په ټاټوبي کې مې ددې سیمې له ختکیو او انارو څخه خوند واخیست. ددې ځای وگړي په ونو «قدونو» لوړ، په تن غښتلي او په چلند زښت مغرور او معقول خلک دي. د مرییانو سوداگر مراد بیگ چې زموږ د لښکر په لاس د سیغانو، هزاره جاتو او د ددهٔ د دوو کلاگانو له نیولو وروسته زموږ د توپخانې د اور پر وړاندې د مقاومت جرئـت له لاسه ورکړی وو، پرته له دې چې زموږ پر لور یو ډز وکړي له خپلې کلا راووت او موږ ته تسلیم سو. وزبیکان په عام ډول له وینو بهولو څخه ویره لري ځکه دوی فکرکوي چې اړین احتیاط د مـېړانې او زړورتیا یوه نښه او برخه ده. هغه ټرون مو چې له مراد بیگ سره لاسلیک کړ ددهٔ د کالخواینې «اختیاراتو» پولې او کرښې مو ورته وټاکلې او ټینگار وشو چې له یادو شویو کرښو او کالخواینې پورته نور نـهٔ شي وتلی، نور نـهٔ نشي کولی څوک لوټ تالان کړي، او کابل ته به د سوداگریزو توکو د تـېریدنگ مالیه ورکوي او د بلخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونـه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ولايت د سياست کنترول به کابل ته ورسپاري. د کندز سرغاړي شهزادگي ته له غوړ تاووني وروسته زموږ لښکر د ۱۸۳۹ ز کال د مارچ په مياشت کې بېرته د کابل پر لور راوخوځېد او زموږ له هيلو سره سم ټولو ته ښـۀ تود ښـۀ راغلاست وويل شو.

**********************



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ